PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۱۲۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یوولسم کال - دویمه دوره، ۱۱۲۵ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۹۹ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د وړي ۲۳ مه - د چهار شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق شوال المکرم ۱۶ مه د ۲۰۱۱ د سپتمبر ۱۴ مه

امریکا هزینه نیروهای امنیتی افغانستان را به نصف کاهش می‌دهد

به دنبال فشارها از سوی کاخ سفید برای کاهش مصارف جنگ افغانستان، پنتاگون توافق کرده هزینه پرداختی واشنگتن به نیروهای پولیس و اردوی این کشور تا پایان سال ۲۰۱۴ به نصف کاهش یابد. پنتاگون قصد دارد، کمک‌های امریکا را به اردو و پولیس افغانستان طی سه سال آینده به کمتر از نصف کاهش دهد. تعلیم نظامی و مجهز کردن نیروهای افغان برای واگذاری مسوولیت‌های امنیتی استراتیژی کلیدی

ص۲

تداوم حملات زنجیره یی؛ دست های پیدا و پنهان، نگرانی ها و پیامدها

پس از روزها آرامش، شهر کابل دیروز شاهد شدیدترین حملات انفجاری، انتحاری و راکتی طالبان طی سال جاری بود. این حملات که ساعت یک و ۲۰ دقیقه از چهارراهی عبدالحق آغاز گردید، بعد از سپری شدن لحظاتی، مناطق دیگر شهر را نیز، زیر تاثیر خود قرار داد؛ صدای انفجارها در مناطق وزیر اکبر خان و حومهٔ آن نیز، شنیده می شد. انفجارهایی در جادهٔ دهمزنگ و سرک دارالامان نیز، صورت گرفت؛ به دنبال آن، درگیری ادامه یافت و انفجار دیگری در سرک میدان هوایی نیز، به وقوع پیوست؛ در بعضی مناطق شهر، دکان ها بسته شد و مردم کوشش می کردند که خود را به محل نسبتا امن برسانند.

ساعاتی پس از وقوع این رویداد، منشی عمومی ناتو اعلام کرد، وی اطمینان دارد که نیروهای اردوی افغانستان قادر به مقابله با حمله گروه طالبان به کابل هستند.

'آندرس فوگ راسموسن منشی عمومی ناتو بعد از دیدار با آندریس برزینس رییس جمهور لتوانیا در گفتگویی با خبرنگاران اظهار داشت: ما تحولات افغانستان را با دقت پیگیری می کنیم.

راسموسن همچنین خاطر نشان کرد، اقدامات صورت گرفته از جانب طالبان در روند واگذاری مسوولیت امنیت به نیروهای افغان تا پایان سال ۲۰۱۴ اثر بخش نخواهد بود.

وی تصریح کرد: ما شاهد

ص۳

په بن کنفرانس کې د اسلامي حزب د ګډون لهوالتیا او د دولت نوی دریځ

په داسې حال کې چې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب یو جګپوړی پلاوی حاضر دی چې په مستقل ډول د بن په دویم کنفرانس کې ګډون وکړي افغان چارواکي مخالفت کوي او وایي چې د افغانستان له لوري به یوازې یو پلاوی په دې نړیوال کنفرانس کې ګډون کوي.

د لندن د ټایمز مجلې د راپور له مخې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب جګپوړی پلاوی تیره اونۍ کابل ته لاړ او تمه کېږي چې د افغانستان له حکومت سره د پخلاینې په برخه کې موافقه وکړي.

د ټایمز مجلې پر اساس اسلامي حزب د بن په نړیوال کنفرانس کې د ګډون لپاره کابل حکومت ته یو مفصل وړاندیز کړی دی، خو تر اوسه دا معلومه نه ده چې افغان حکومت، کور به هېواد جرمني او نړیواله ټولنه به له دې سره موافقه وکړي چې د ګلبدین حکمتار ډله د بن په غونډې کې برخه واخلي که نه.

دا دویم ځل دی چې د مجاهدینو د حکومت د صدراعظم د ګوند یو جګپوړی پلاوی د



افغانستان مرکز ته د خبرو لپاره ځي. ګلبدین حکمتیار د هغې ډلې په سر کې شامل دی چې امریکا یې د نیولو هڅه کوي.

تیر پسرلی د ګلبدین حکمتیار هیئت کابل ته تللی و او ولسمشر حامد کرزي دا ومنله چې د اسلامي حزب له ډلې سره یې خبرې کړې دي. هغه وخت داسې رپوټونه خپاره شول چې دا خبرې به څه نتیجه ورکړي خو بیا وروسته بې نتیجې پاتې شوې.

۳مخ

بهرني سریالونه که بهرنی کولتوري یرغل!؟ ۲

په غزني کې رغول شوې څلور لرغونې ابدې پرانیستل شوې

په غزني کې له لسو هغو لرغونو ابدو، چې د رغونې کار یې یو کال مخکې پیل شوی و، څلور یې پرون د یولې مراسمو په ترڅ پرانیستل شوې. د دغو پروژو د پرانیستې په مراسمو کې د اطلاعاتو او کولتور وزیر سید مخدوم رهین او د بناري پراختیا په چارو کې د ولسمشر سلاکار یوسف پښتون ګډون کړی و. د اطلاعاتو او کولتور وزیر په همدې اړه جوړه شوې غونډې ته وویل، چې د ۲۰۱۳ کال تر رارسېدو مخکې به ۴۲ تاریخي ځایونه او لرغونې ابدې ورغوي.

هغه زیاته کړه، چې په کار کې ځنډ په حکومت او وزارتونو کې د کاغذ پرانی له املې دی. د څلور پرانیستل شوې پروژې د سلطان محمود د پلار سبکتګین، د غزنوي دورې د عادل حاکم شریف خان او دغه راز د سید حسن اغا او پیر شاتیرا مقبرې دي. غزني په ۲۰۱۳ کال کې د اسلامي هېوادونو د کنفرانس د علمي، تعلیمي او کولتوري موسسې ایسیسکو له لوري د اسلامي تمدن او کلتور پلازمینه نومول کېږي. دغه راز سلاکار وزیر یوسف پښتون، غزني ته د خپل پنځم سفر په ترڅ کې بیا ژمنه وکړه، چې د ۲۰۱۳ کال لپاره د چمتووالي په موخه به

۲مخ

افغانستان د لیبیا له نوي حکومت سره اړیکي ټینګوي

د افغانستان د وزیرانو شورا پریکړه وکړه چې د بهرنیو چارو وزارت دې د دیپلوماتیکو اصولو او دودونو له مخې، د لیبیا له

انتقالي شورا سره د افغانستان دولت دملاتړ په اړوند لازم اجراات وکړي.

د چارو د اداره او د وزیرانو شورا د دارالانشا دلوی ریاست د معلوماتو له مخې، د وزیرانو شورا دغه پریکړه ورمه ورځ وروسته له هغه وکړه، چې ولسمشر حامد کرزي د لیبیا هېواد دانتقالي شورا د په رسمیت پېژندلو موضوع غونډې ته طرحه کړه.

د لیبیا انتقالي شورا، چې څو ورځې مخکې یې مرکز له بنغازي ښار څخه د دغه هېواد پلازمینې طرابلس ته ولېږداوه د امریکا، روسیې، بریتانیا، تونس او الجزایر په ګډون د یو شمېر هېوادونو له خوا په رسیمت پېژندل شوې ده.

د لیبیا د وسلوالو مخالفینو له لوري د طرابلس تر نیول کېدو وروسته، د لیبیا ولسمشر معمر قذافي نامعلوم لوري ته تللی او کله نا کله د راډیویي پیغامونو له لارې خپل مخالفین ګوابنې او د جګړې په دوام ټینګار کوي.

د مصطفی عبد الجلیل په مشرۍ د لیبیا د انتقالي شورا د ځواکونو له خوا د طرابلس تر نیول کېدو وروسته د قذافي د کورنۍ یو شمېر غړي الجزایر او نیجر ته تښتېدلي دي.

د قذافي د واکمنۍ پر مهال افغانستان له لیبیا سره دیپلوماتیکې اړیکې لرلې، خو د تېرې کب په میاشت کې په دغه هېواد کې د حکومت پر وړاندې د پاڅون له پیل وروسته د افغانستان سفارت په طرابلس کې وتړل شو.

د طالبانو د رژیم له ړنګېدو وورسته لیبیا د شاوخوا در هېو کلونو لپاره په افغانستان کې خپل سفارت پرانیست، خو د نامعلومو دلایلو

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

مکثی بر پیامدهای یک دهه مبارزه بر ضد ترور؟!

بعد از سپری شدن ده سال از حملات شبکه القاعده در امریکا، با وجود مبارزات بی امان و پیگیر در مقابل این شبکه، ایجاد پایگاه های نظامی، تحرکات و تدارکات نظامی، از بین بردن رهبر و سایر افراد کلیدی این شبکه و تلفات هزاران تن افراد نظامی و ملکی و مصارف میلیون ها دالر به خاطر محو بقایای این شبکه هنوز هم این شبکه با همان قدرت و شدت سابقه فعال بوده و در نقاط مختلف دنیا فعال است.

مردم سراسر جهان در حالی که از ترس و دلهره خواب آرام ندارند، نه تنها از شکست و محو این شبکه انتظاری ندارند، بلکه امیدی به تضعیف شدن این شبکه نیزموجود نیست. زیرا جهانیان به ویژه مردم عذاب کشیدهٔ افغانستان که به صورت غیرمستقیم قربانی این روند شده که تا هنوز هم سلسلهٔ این قربانی به شدت جریان دارد، عملاً مشاهده می نمایند که بعد از گذشت یک دهه از این رویداد، حملات این شبکه همچنان بدون وقفه ادامه دارد.

چنانکه طی هفتهٔ جاری چندین رویداد تخریبی در مناطق مختلف کشور از سوی این شبکه و یا شبکه های وابسته به آن، راه اندازی شد که طی آن، چندین تن از هموطنان مظلوم ما جان دادند.

هکذا حملات سازمان یافتهٔ تروریستی دیروز در نقاط مختلف شهر کابل نمونهٔ بارز قدرت نمایی و انتقام جویی این شبکه بود که تعدادی بیشماری از هموطنان ما قربانی گردیدند.

حال سوال دراینجاست با وجود هزینه های کمرشکن امریکا که نه تنها اقتصاد آن کشو را به بحران کشانده، بلکه در مجموع اقتصاد جهان و به خصوص وضع اقتصادی، اجتماعی، سیاسی و نظامی کشور افغانستان را نیز، بحرانی ساخته است، به خاطر محو شبکهٔ القاعده که به زعم خود شان رهبر آنرا نیز، نیست و نابود کرده اند، چرا این پروژه با موفقیت همراه نیست.

نقص و یا نواقص عمده در بسر رسانیدن پروژه مبارزه بر ضد تروریزم در کجاست که تا حال امریکا به شمول جامعهٔ جهانی با وجود تلفات جانی و خسارات مالی، موفق به تکمیل این پروژه نشده اند؟

اگر شکارچی یی به خاطر اعاشهٔ فامیل خود به شغل شکار اشتغال دارد، در مرحلهٔ اول اگر مرمی اش یک کمی بالاتر از هدف اصابت نماید و در مرحلهٔ دوم یک کمی پایین تر از هدف بخورد در دفعهٔ سوم باید مرمی اش به صید اصابت نماید، اگر به هدف اصابت ننمود، شکارچی احمقی بیش نخواهد بود. باید تفنگ را بفروشد و پی کار دیگری برود؛ زیرا هم پولش مصرف می شود و هم وقتش ضایع می گردد، چون مرمی مصرف شده قیمت تر از پرنده یی خواهد بود که آنرا شکار نماید.

حال ناتو هم در راهکار و استراتیژی خویش در قمست مبارزه با شبکه القاعده باید تجدید نظر نماید، ورنه پیامد و نتایج بی ثمر ده ساله، ارزش این همه تلفات و خسارات را ندارد.

بگذارید این ملت نیم بسمل به خون خفته حد اقل هدف یک مرمی قرار گرفته و قربانی یک صیاد شوند نه قربانی ۴۸ شکارچی.

بهرني سریالونه که بهرنی کولتوري یرغل!؟

نسیم بریال



بهرني سریالونه، چې تر ډېره په کې هندي، ایراني، ترکي، انګرېزي یا په لوبدېځو نورو هېوادونو پورې اړوند سریالونه راځي، هغه لویه اوږه ده چې نړۍ د افغانستان ټول ولس پرې معتاد شوی دی. دا ډول سریالونه افغانستان ته د بهرنیانو له راتګ سره سم راغلل او د لسګونو ټلوېزیوني چینلونو په رامنځ ته کېدو سره یې دومره پراختیا وکړه، چې د هېواد ګوټ ګوټ ته یې لار ومونده له. که څه هم د ښاغلي کرزي د واکمنۍ په لومړیو کې یوازې دوه درې ټلوېزیوني چینلونه موجود وو، خو اوسمهال یې شمېر لسګونو ته رسېدلی او داسې چینل به نه وي، چې په هغه کې دې یوه دوه او یا زیات بهرني او په ځانګړې توګه هندي سریالونه نه خپرېږي. دا چې دا ډول سریالونه، چې په ښکاره ډول زموږ له اسلامي، او افغاني کولتور سره مغایرت لري، زموږ پر ولس او ټولنه به ځومره ناوړه اغېزې ولري او لري، دا هغه څه دي، چې زموږ په ګډون یې د ډېرې خلکو او کورنیو اندېښنې راپاروليدي. دا ډول سریالونه تر ډېره نیمه لوڅ او یوازې د فحشا، بې لارۍ او د پردي کولتور تر ترویجولو اخوا بل څه پیغام نه لري. په ډېرې کورنیو کې چې د سړي مور و پلار، خور، لور او نور سره یو ځای کښېني، نو د داسې فاحشو او ناوړه سریالونو په لیدو سړی زښت زیات شرمېږي او حتا په ډېرې کورونو کې کورنۍ شخړې او ستونزې هم زیرولې دي. دا سریالونه که یو څه په خپلو ژبو خپرېږي، خو یو څه یې پر دري او پښتو ژبو هم دوبله کېږي. دا ډول سریالونه د علماوو د شورا منع اعلان کړي وو، خو لایې هم خپرول ښه په نره دوام لري. د علماو شورا څلور کاله مخکې څو هندي سریالونه له اسلامي موازینو خلاف په ګوته کړل او د هغوی د نه خپرولو غوښتنه یې وکړه، خو د تلویزیونونو مالکانو دې غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه. دې شورا یوازې اسلامي اړخ ته نغوته کړې وه، بلکې کولتوري اړخ ته یې هېڅ پاملرنه نه وه کړې، حال دا چې کولتور مستیقماً پر اسلام هم اغېز کولی شي، چې ښه ښلګې یې موږ تاسې په ورځنیو خپرېدونکو سریالونو کې د پنډتانو او نورو مذهبي او کولتوري دودونو تمثیل او په افغاني ټولنه کې د هغو انعکاس دی.

په همدې حال کې څو ورځې مخکې د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر مخدوم رهین د مشرانو جرګې په یوه غونډه کې ښه په نره وویل: "که د تلویزیونونو پر خپرونو بهلابهل محدودیتونه ولګول شي، پر ځوانانو منفي اغېزې او انحرافاتو خوا ته یې مخه کوي."

د اطلاعاتو او کولتور وزیر په دې موخه جرګې ته غوښتل شوی، چې په تلویزیونونو کې د نیمه برېنډو سندرو او سریالانو د مخنیوي لپاره څه پلانونه لري؟

په جرګه کې د جرګې د رییس له خوا پوښتنه وشوه، چې ((په هېواد کې هره ورځ وژنو ته ګوره او په تلویزیونو کې نیمه برېنډو نڅاګانو او سریالونو ته ګوره، ډېر ژر یې باید مخه ونیول شي.))

خو په ځواب کې یې ښاغلي وزیر وویل، په ټولو رسنیو او په ځانګړې ډول پر انځوریزو رسنیو د محدودیتونو لګول پر ځوانانو منفي اغېز کوي.

هغه زیاته کړه، چې په دغه شان حالاتو کې بیا ځوانان په ښار کې د منحرفو فلمونو په لټه کې کېږي، چې د دې فلمونو مخنیوي او ټولول، دې وزارت او نورو ارګانونو ته هم ستونزمن کار دی. هغه دا هم وویل: ((کابل ته چې لس سې ډي کستټونه راوړل کېږي، اته یې غیر اخلاقي دي.))

په دې توګه ښاغلي رهین د پردي کولتور او پردي کولتوري یرغل د نه مخنیوي په پار داسې دلیل وړاندې کړ، چې د مشرانو جرګې ټول غړي یې چوپ کړل، حال دا چې پردی کولتور پخپله د اخلاقي فساد د دودولو تر ټولو غوره وسیله ده او یاد سریالونه یوازې د فحشا او مزخرفاتو تر دودولو پرته بل هېڅ پیغام نه لري! که ښاغلی رهین د مبتذلو فلمونو او کېستټونو د وارېدېدلو مخه په دې ډول سریالونو باندې نیسي، نو دا په حقیقت کې هسې یو خیال دی، ځکه مبتذل فلمونه کنټرولېدلی، محدودېدلی او یا هم بندېدلی شي او بله دا چې د دې ډول فلمونو اغېز او کارونه د ټولنې په یوه محدود شمېر وګړو پورې اړوندېږي، نه په ټوله ټولنه پورې، خو سریالونه پر ټوله ټولنه، وارو، زارو او ځوانانو باندې اغېز شیندي. په دې توګه ویلی شو چې د ښاغلي رهین دا طرحه مناسبه او معقوله نه ده او باید په هر ډول چې وي، د دې ډول بهرنیو سریالونو او فلمونو د خپرولو مخه ونیسي او د افغاني کولتور د خوندیتوب لپاره دې پر ځای او مناسب ګامونه اوچت کړي.

په غزني کې رغول شوې څلور...

ستر پروژې پیل شي. د نوموړي دا خبرې د قومي مشرانو له سخت غبرګون سره مخ شوې او هغه یې په تکراري دروغو ویلو تورن کړ. په هغې غونډه کې، چې په همدې اړه د ولایت د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، پخواني سناتور مولانا عبدالرحمن حکیمي نیوکه وکړه، چې څلور کاله مخکې د غزني لپاره نقشه جوړه شوه، پروژې ورته ځانګړې شوې، لګښت یې معلوم شو، خو تر دغه مهاله یوه پروژه هم پیل نه شوه. په پام کې وه، چې لومړی د لرغونو ابدو رغونه او په دویم ګام کې اساسي ښاري خدمتونه او دغه راز د خصوصي سکتور برخه، چې په ښار کې د هوټلونو او دانول هم په کې شامل دي، بشپړ شوي وای.

امریکا هزینه نیروهای امنیتی...

دولت بارک اوباما، رییس جمهور امریکا در خارج کردن نیروها تا پایان سال ۲۰۱۴ بوده است. با این حال کاخ سفید روند مخارج بالای نیروهای افغان برای امریکا را غیر قابل ادامه می‌داند و پنتاگون را تحت فشار قرار داده تا از این مخارج بکاهد. به گفتهٔ مقام‌های امریکایی کاهش هزینه‌ها در کل کمک‌های امریکا به نیروهای امنیتی افغانستان را از سالانه ۱۳ میلیارد دالر به ۶ میلیارد دالر در سال ۲۰۱۴ خواهد رساند. پنتاگون در شش سال گذشته بیش از ۳۹ میلیارد دالر برای تعلیم نیروهای امنیتی در افغانستان هزینه کرده است. به گزارش ساندی تایمز، امریکا در حال حاضر تقریبا تمامی مخارج پولیس و نیروهای امنیتی افغانستان را می‌پردازد و احتمالا این روند در آینده نزدیک همچنان ادامه خواهد داشت، چرا که دولت افغانستان با توجه به درآمد اندکش از طریق دریافت مالیات و سایر درآمدهای داخلی توانایی پرداخت هزینه‌های امنیتی را ندارد.

په بن کنفرانس کې د اسلامي ...

دا ځل د ولسمشر دفتر دا خبره نه ده تایید کړې چې حامد کرزي تیره اونۍ د حکمتیار د اسلامي حزب له هیئت سره لیدلي دي.

د افغانستان د سولې د عالي شورا یوغړی اسماعیل قاسمیار وایي، تر اوسه د اسلامي حزب له غړیو سره خبرې په لومړیو مرحلو کې دي. قاسمیار زیاته کړه، اسلامي حزب غواړي چې د بن په غونډه کې برخه واخلي او له افغان حکومت سره سوله وکړي.

ټایمز مجله په خپله تازه ګڼې کې لیکي چې بریتانیایي دیپلوماتانو مخکې هیله څرګنده کړې وه چې طالبان به هم د بن کنفرانس ته خپل استازي واستوي خو لویدیځ چارواکي وایي چې دا خبره تر ډیره ممکنه نه ده، ځکه چې له هغوی سره پټې اړیکې سمې نه دي نیول شوي او د سولې خبرې هم ورو دي.

ټایمز د افغان چارواکو په وینا چې د نوم د نه اخیستلو په شرط یې دې مجلې ته خبرې کړې دي، وایي، د حکمتیار له ډلې سره د سولې خبرې بنې دي، ځکه چې د هغه کسان چې په جګړه کې یې برخه نه ده اخیستې تیار په حکومت کې شته او مهمې چوکۍ لري. د ولسمشرۍ له دفتر سره یوې نژدې سرچینې وویل چې اسلامي حزب پر ولسمشر کرزي ډېر اغېز لري، نو په اغلب ګومان چې حکومت به له دې ډلې سره یوه معامله وکړي.

د حکمتیار استازو مخکې دا شرط درلود چې هغه وخت به د سولې خبرې کوي چې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي بیا یې وړاندیز وکړ، که چیرته د امریکا او ناټو پوځیان په افغانستان کې له خپلو اډو نه راوځي نو اوربند به وکړي.

وړمه ورځ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ګلبدین حکمتیار دا وړاندیز رد کړ چې که د بن په دویمه غونډه کې د یوه "خپلواک او د ستونزې د مطرح اړخ" په توګه برخه ورکړل شي، نو ګوند به یې په دې غونډه کې ګډون وکړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغانستان له خوا به د بن غونډې ته 'یو' افغان پلاوی ځي.

د بهرنیو چارو وزارت ویندوی جانان موسي زي وویل که د بن تر غونډې وسلوال مخالفان د سولې د عالي شورا په نوښت د جوړجاړي له بهیر سره یو ځای شي، نو ممکنه ده چې د افغان پلاوي برخه وګرځي.

لیبیا در جستجوی ...

در این شهرها، پایان یافت، بار دیگر درگیری میان انقلابیون و هواداران دیکتاتور مخلوع لیبیا بالا گرفته است.

در همین حال روز شنبه گذشته، مصطفی عبدالجلیل رییس شورای ملی انتقالی لیبیا، برای نخستین بار پس از فتح طرابلس به دست مخالفان قذافی، وارد این شهر شد.

با وجود اینکه پایتخت لیبیا در اختیار انقلابیون قرار گرفته، اما شورای ملی انتقالی این کشور، همچنان از انتقال کامل افراد و سازماندهی خود از بنغازی به طرابلس خودداری می کند.

عبدالجلیل در سخنرانی خود در جمع هوادارانش گفت که سفرش به طرابلس موقتی است و انتقال نهایی اعضای شورای انتقالی لیبیا به پایتخت بعد از آزادی کامل کشور انجام خواهد شد.

به نظر می رسد، در شرایطی که هنوز درگیری ها در لیبیا ادامه دارد و هنوز بخش هایی از این کشور در اختیار هواداران قذافی است، شورای انتقالی نمی خواهد، با انتقال کامل خود به طرابلس، خود را عهده دار امور و در نتیجه زیر فشار افکار عمومی قرار دهد. با این وجود بعید به نظر می رسد، نیروهای هوادار قذافی توانایی ایستاده گی زیادی در برابر انقلابیون را داشته باشند.

از این رو پیش بینی می شود، طی روزهای نه چندان دور، آرامش نسبی در شهرهای لیبیا حاکم شود.

چنانچه انقلابیون لیبیا بتوانند، طی روزهای پیش رو امنیت نسبی را در این کشور برقرار کنند، مهمترین موضوع پیش روی آنها، ورود به فرایند سیاسی و روند انتقال قدرت خواهد بود.

آنطور که مقام های شورای انتقالی گفته اند، دولت موقت این کشور ظرف ۱۰ روز آینده تشکیل خواهد شد.

گفته شده این دولت، دولت وحدت ملی خواهد بود که نماینده گانی از تمامی مناطق لیبیا را در خود جای خواهد داد.

بی شک دولت موقت لیبیا مسایل و دشواری های به غایت پیچیده یی را در برابر خود خواهد داشت که چگونگی مدیریت و حل آنها، توانایی بالایی را می طلبد.

مهمترین مسأله پیش رو، حفظ و بسط امنیت در کشور است. این احتمال وجود دارد که قذافی و وابستگان و هواداران وی با توجه به امکانات و پول هایی که در اختیار دارند، تمام تلاش خود را برای بسط ناامنی در لیبیا و اخلال در فرایند سیاسی و امنیتی صرف کنند. به میزانی که نیروهای انقلابی بتوانند، امنیت را در سراسر لیبیا گسترش دهند و مانع از اقدامات خرابکارانه شوند، می توان انتظار داشت که فرایند سیاسی در این کشور با سرعت بیشتری پیش رود. ناگفته پیداست، تامین امنیت در لیبیا تنها از طریق اقدامات نظامی و امنیتی امکان پذیر نیست. با توجه به جایگاه و نفوذ بالای قبایل در ساختار اجتماعی این کشور، اگر انقلابیون بتوانند اعتماد آنها را به خود جلب کنند، قبایل می توانند، عامل درونزا برای حفظ و بسط امنیت در مناطق مختلف لیبیا باشند.

سر و سامان دادن به اقتصاد بحران زدۀ لیبیا، یکی دیگر از وظایف مهم دولت انتقالی خواهد بود. گزارش ها حاکی از آن است که هنوز بخش عمده یی از مردم این کشور گرفتار تامین نیازهای اولیۀ زنده گی همچون آب و غذا هستند.

فراهم کردن شرایط برای تدوین قانون اساسی جدید برای لیبیا یکی دیگر از وظایف دولت انتقالی این کشور خواهد بود. بدیهی است به دلیل وجود گرایش های مختلف سیاسی در میان انقلابیون، تدوین قانون اساسی که موافقت همه را همراه داشته باشد اگر نه غیرعملی، اما بسیار دشوار است.

افغانستان د لیبیا له نوي حکومت ...

له امله دغه سفارت وټرل شو.

ویل کېږي چې د قذافي په مشرۍ د لیبیا دولت د طالبانو له رژیم سره هم اړیکې لرلې، خو رسمي بڼه یې نه وه خپله کړې.

تداوم حملات زنجیره یی...

این هستیم که طالبان در حال سنجیدن انتقال (مسوولیت امنیت) است. اما آنها نمی توانند، این مهم را متوقف کنند. انتقال در جریان است و ادامه خواهد داشت.

به هر حال، حملات دیروز مخالفان مسلح در شهر کابل، به نوع خود دارای ویژه گی های خاص خود بود؛ در حملات گذشته، مخالفان تنها از سلاح های خودکار خفیفه استفاده می کردند، ولی در رویداد روز گذشته، مخالفان مسلح با در دست داشتن سلاح ثقیله وارد کارزار شدند؛ باید گفت، این نخستین حملۀ دسته جمعی مخالفان است که در آن از سلاح های ثقیله از جمله راکت انداز آر. پی. جی نیز، استفاده می شود. افزون براین، این حملات در تناسب با حملات گذشتۀ مخالفان، ساحۀ وسیع و گسترده را احتوا می کرد و در عین حال، نوعیت آنها نیز، گوناگون بود؛ چنانکه در یک محل، با نیروهای امنیتی به درگیری پرداخته و در محلات دیگر، به انفجارهای انتحاری و راکت اندازی متوسل می شدند. این گونه تکتیک در پهلوی اینکه فضای وحشت تام را در بین مردم حکمفرما ساخته بود؛ به نحوی نیروهای امنیتی را نیز، دچار نگرانی کرده و آنها را به طور همزمان در چند محل مصروف می ساخت؛ در حالی که احتمال می رفت، انفجارهای مشابه دیگری نیز، واقع شود؛ از همین رو، دیروز شهر کابل طی چند سال اخیر در اضطراری ترین وضعیت قرار داشت؛ نیروهای امنیتی در تمام حصص شهر در حالت آماده باش درآمده بودند؛ صداهای امبولانس ها در هر گوشه و کنار شهر شنیده می شد.

اما اینکه مخالفان از این حملات وحشتزای شان چه اهدافی را تعقیب می کنند، به باور کارشناسان، در حالی که از پروسۀ انتقال مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان، ماه ها سپری می شود و مرحلۀ نخست آن نیز، تکمیل شده است؛ مخالفان با راه اندازی چنین حملات می خواهند، این پروسه را ناکام قلمداد کرده و وانمود سازند، اگر مسوولیت های امنیتی به نیروهای داخلی منتقل شود و یا نشود، این روند در شدت، کمیت و کیفیت حملات و فعالیت های آنها تاثیر گذار نخواهد بود و آنها خواهند توانست، در هر کجایی که خواسته باشند، چنین حملات گسترده را برنامه ریزی کرده و به انجام برسانند.

از سوی دیگر، بادرنظرداشت ابعاد گوناگون این حملات، چنین به نظر می رسد که بازهم دستان پنهان و پیدای خارجی که در افغانستان در پی اهداف خاص خود هستند، در پشت این رویداد المناک قرار دارد؛ آنها با راه اندازی چنین حملات وحشت زا می خواهند، دولت افغانستان را بیشتر زیر فشار قرار داده و از این رهگذر امتیازات قابل ملاحظه یی هم در عرصۀ دیپلوماتیک و سیاسی و هم در دیگر عرصه ها از آن خود سازند.

از سوی دیگر، این حملات می تواند، کارایی و کارآمدی نیروهای امنیتی افغان را زیر سوال ببرد؛ نهادهای امنیتی کشور که در حال حاضر، نسبتا از امکانات خوبی برخوردار هستند و خود نیز ادعا دارند که در منطقه، از نیروهای ممتاز امنیتی به شمار می روند و همچنان در طول ده سال گذشته، بیشترین سرمایه گذاری های خارجی و داخلی در راستای تقویه و تجهیز آنها هزینه گردیده است؛ چگونه نتوانستند، از وقوع چنین حملات خونبار در مناطق حساس پایتخت پیشگیری کنند؟ این مسأله در پهلوی اینکه باردیگر، بی باوری مردم را نسبت به کارایی نیروهای امنیتی کشور، ازدیاد می بخشد، پرسش های زیادی را نیز، در ذهن متبادر می سازد، از جمله اینکه، نیروهای امنیتی افغان که در آستانۀ انتقال مسوولیت های امنیتی قرار دارند و در حال حاضر که نیروهای خارجی و جامعۀ جهانی نیز، در کنار شان قرار دارد و آنها را با تمام امکانات همکاری و همیاری می نمایند، در صورتی که نتوانند، وضعیت امنیتی را در چند صد متری ارگ ریاست جمهوری تامین نمایند، چگونه می توانند اعتماد و باور مردم را به دست آورده و چگونه خواهند توانست، در آینده در حالی که نیروهای خارجی نیز، کشور را ترک بگویند و امکانات و تجهیزات نیز محدود گردد، امنیت کل کشور از جمله امنیت روستاها و قریه های افغانستان را تضمین نمایند؟ این پرسش هایی است که مقام های مسوول باید پاسخگوی آن باشند.

لیبیا در جستجوی آرامش

با پایان یافتن مهلت انقلابیون لیبیا به هوادران قذافی برای تسلیم شدن، انتظار می رود، پس از نبردهایی کم و بیش سخت، آرامش نسبی برای ورود این کشور به فرایند سیاسی حاکم شود.

مخالفان معمر قذافی که چندی پیش توانستند، با فتح طرابلس پایتخت لیبیا، بر دیکتاتوری ۴۲ سالهٔ وی پایان دهند، همچنان تلاش می کنند، تا آخرین مناطق زیر کنترول نیروهای هوادار دگروال قذافی را تصرف کنند.

گفته می شود، کنترول چهار شهر سرت، بنی ولید، سبها و جفرا هنوز به دست نیروهای انقلابی نیفتاده است. طی روزهای اخیر شورای ملی انتقالی لیبیا، تلاش کرد، تا با مذاکره با قبایل موجود در این شهرها آنها را قانع کند که از حمایت قذافی دست بردارند، اما به ظاهر این گفتگوها نتیجه یی در برنداشته است.

بر این اساس، از روز جمعه که ضرب الاجل انقلابیون به هوادران قذافی برای پایان دادن به مقاومت شان

ص۳

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

روش اخلاقی و حقوقی:کارمندان مجری قوانین، باید گزارش نقض آن قوانین و مقرراتی را که ازحقوق بشر حمایت نموده و آن را رشد میدهد ارایه بدارند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com